# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د اپریل نهمه | دویم کال | ۳۶۰مه گڼه


## حقوقي شنونکي:

# د مشرانو جرگې د کار دوام مشروعیت نه لري او د قانون خلاف دی




۳

### د تاوتریخوالي د کمولو لپاره د خلیلزاد غوښتنه

۲ مخ

### د سولې اغزنه لار او د مصالحې ټیم ازمون

۲ مخ

### د هر کار لپاره څلور مهم اصله (پلان، عمل، ارزونه او سرته رسول)

۳ مخ

## راپورونه: د ننگرهار د ۹۰۲ ښوونځیو له ډلې ۴۴۶ یې ودانۍ نه لري

د ننگرهار د پوهنې ریاست چارواکو ویلي، په دغه ولایت کې د ۹۰۲ ښوونځیو له ډلې ۴۴۶ یې ودانۍ نه لري.

په جلال اباد ښار کې د بېز اکمالاتي ښوونځی له همدې ډلې یو دی، چې سلگونه زده کوونکي پکې تر شنه اسمان لاندې پر زده کړو بوخت دي، چې په باد او باران کې بیا له زده کړو بې برخې وي. د جلال اباد ښار اړوند په دغه بې سرپناه ښوونځي کې سلگونه زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

که څه هم په ښوونځي کې خېمې شته، خو بسنه نه کوي او ځینې ټولگي چې د زده کوونکو کچه هم پکې لوړه ده، تر شنه اسمان لاندې دي چې د باد او باران پر مهال بیا ښوونځی تړلی وي. د توحیدالله په نوم د دغه ښوونځي زده کوونکي ویلي: «له دې خېمو سره موږ ډېر له ستونزو سره مخامخ یو، کله لمر وي او کله هم باران». د یاد ښوونځي ښوونکو ویلي، په وار وار یې پوهنې ریاست او اړوندو ادارو ته په دې اړه خپل شکایتونه کړي، خو تر اوسه یې چا د ستونزو د هواري لپاره اقدام نه دی کړی.

په همدې حال کې د ننگرهار د پوهنې ریاست چارواکو ویلي، چې سږ کال به د دوو سوو ښوونځیو لپاره په دغه ولایت کې سرپناوې جوړې شي. د ننگرهار د پوهنې ریاست ویاند اصف شینواري په دې اړه ویلي: «د ننگرهار ولایت د پوهنې ریاست ۹۰۲ ښوونځي لري، چې له ډلې یې ۴۴۶ ودانۍ نه لري او یا هم د زده کوونکو لپاره بسنه نه کوي. د ولسمشر د هدایت له مخې چې په ۱۳۹۸ کال کې هېواد کې ۲۰۰۰ ښوونځي جوړېږي، له ډلې به یې ۲۰۸ ننگرهار کې جوړ شي».

### د افغانستان د سولې پروسې لپاره د ضامن په توگه چمتو یو



۵ مخ




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store



## هېواد

2 017550 139621


۴ مخ

## غوټۍ خاورې



غوټۍ خاورې په پښتني ټولنه کې د ښځو د زده کړو او بیا کار کولو او په هېواد کې له سختو شرایطو سره سره، هڅه کوله چې ځان یو ځای ته ورسوي او په دې برخه کې نورو ته یوه الگو شي.

### د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت:

## په غور کې ۵۰ هکتاره څرځایونه جوړېږي



د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت ویاند، اکبر رستمي ویلي، چې په غور کې د ۵۰ هکتاره څرځایونو د رغونې چارې پیل شوې دي.

د دغه وزارت ویاند پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې د کرنې وزارت د پروگرام له مخې، د غور د کرنې ریاست باید د څرځایونو تخریب شوې ساحې په نښه او بېرته یې د بیارغونې چارې پیل کړې.

د نوموړي په خبره، ټاکل شوې چې په دغو څرځایونو کې د څارویو لپاره رشقه وکرل شي.

په ورته وخت کې د یاد ولایت مالداران د کرنې وزارت له یاد پروگرام څخه هرکلی کوي او وایي، څرځایونه چې د دوی د څارویو لپاره حیاتي ارزښت لري؛ په بیا رغولو سره به یې ددوی ستونزې راکمې او د څارویو محصولات به یې د پخوا په پرتله ډېر شي.

## عبدالله: مبارزه با تروریزم تلاش‌های مشترک دولت‌ها را می طلبد




عبدالله عبدالله، رئیس اجرائیه که برای شرکت در نشست مجمع جهانی اقتصاد در اردن رفته‌است، در نشست «افراط‌گرایی؛ درس‌های از گذشته» در این کشور گفته است که مبارزه با هراس‌افگنی، تلاش‌های مشترک دولت‌ها را می‌طلبد. وی گفته است: «ما نمی‌توانیم واقع‌بینانه امیدوار باشیم که همهٔ رادیکال‌ها را اصلاح کنیم، اما می‌توانیم به‌گونهٔ جمعی بیشتر کار کنیم، تا فرصت آن‌ها را برای پخش پیام‌های نفرت‌انگیز در میان مردم، کاهش بدهیم».

آقای عبدالله، در بخش دیگر از سخنانش در این نشست، هرچند از کشور مشخصی نام نبرد؛ اما افزود که حتا حامیان هراس‌افگنان نیز از آسیب‌های رادیکالیزم در امان نمانده‌اند.

عبدالله گفته است که نباید کشورها برای پیشبرد سیاست خارجی خود، از تروریزم به‌عنوان ابزار استفاده کند. وی درین باره افزوده است: «برای این‌که با تروریزم، افراط‌گرایی و رادیکالیزم مبارزه کنیم، نیاز است تا تمامی کشورها که از تروریزم به عنوان ابزاری برای پیشبرد سیاست خارجی شان کار می گیرند، این کار را متوقف کنند».

رئیس اجرائیه افزوده است که افغانستان در راستا مبارزه با هراس‌افگنی قربانی‌های زیادی را متقبل شده‌است و اکنون نیز این کشور در خط نخست مبارزه با هراس‌افگنی قرار دارد.

وی هم‌چنان گفته است که دولت افغانستان متعهد است تا در برابر هراس‌افگنی به‌گونهٔ جدی مبارزه کند، اما این مبارزه زمانی به نتیجه می‌رسد که از سوی کشورهای دیگر همراهی شود.

## درېـځ

# د تاوتریخوالي د کمولو لپاره د خلیلزاد غوښتنه

په کابل کې د امریکا سفارت وايي چې د افغان سولې لپاره د دغه هېواد ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له ولسمشر غني سره کتلي دي. سرچینه وايي، نوموړي په دغه لیدنه کې په راتلونکو اونیو کې په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي پر کمولو ټینگار کړی دی. تر دې وړاندې خلیلزاد په یوه مرکه کې ویلي وو، چې امریکا د افغانانو له وژلو ستړې شوې او افغانان هم باید یو د بل له وژلو ستړي شوي وي. ویل کېږي چې خلیلزاد دا خبره په ارگ کې له ولسمشر غني او سیاسي مشرانو سره په گډه غونډه کې هم کړې وه.
د سولې خبرې روانې دي، ستونزې به وي، توافق به وخت نیسي؛ خو یوه هیله چې خلک یې لري او باید عملي شي، هغه دا ده چې روان تاوتریخوالی باید کم شي. د خلکو تمه خو ان دا ده چې اوربند دې وشي او تاوتریخوالی دې پوره ودرول شي، خو که دا نه کېږي، لږ تر لږه تاوتریخوالی باید کم شي.
له بده مرغه د سولې له خبرو سره نه یوازې تاوتریخوالی کم شوی نه دی، بلکې زیات شوی هم دی. که څه هم طالبانو په ښارونو کې ځانمرگي بریدونه او چاودنې کمې کړې دي او د پخوا په شان بریدونه نه کوي، خو په دې وروستیو کې یې بیا په ځینو ولسوالیو کې خونړي بریدونه کړي دي. حکومت بیا د سولې له خبرو سره هممهاله شپنیو عملیاتو او بریدونو ته زور ورکړی دی او هره ورځ د لسگونو طالبانو د وژلو ادعا کوي. دغه راز په دغو بریدونو کې نږدې هره شپه ملکي وگړي هم وژل کېږي، چې په همدا تېرو دوو ورځو کې په وردگو، لوگر او ننگرهار کې ډېر ملکي وگړي شهیدان شوي دي. له بله اړخه طالبانو لا د خپلو پسرلنیو عملیاتو اعلان نه دی کړی، خو حکومت د خالد په نامه د عملیاتو د پیل اعلان کړی دی. وېره ده چې طالبان به هم پسرلني عملیات اعلان کړي او په دې سره به جگړه لا زیاته شي.
د جگړې او وژنو شدت نه یوازې د خلکو د هیلو خلاف دی، بلکې د سولې پر روانه پروسه هم منفي اغېز کوي. هغوی چې فکر کوي د جگړې په شدت سره به پر مقابل اړخ فشار راوړي او په دې ډول به په سوله کې زیات امتیاز تر لاسه کړي، تېروتنه کوي؛ ځکه چې په تېرو اتلسو کلونو کې د دواړو لورو فشار او زور معلوم شوی دی. دواړه لوري باید د تاوتریخوالي د کمولو لپاره له خپله اړخه گامونه واخلي. کله چې امریکایان وايي، دوی د افغانانو له وژلو ستړي شوي او کله چې ټرمپ روانه جگړه مسخره گڼي، نو حکومت ته هېڅ دلیل نه پاتې کېږي چې پر جگړه ټینگار وکړي. که حکومت پر جگړه ټینگار کوي او امریکا رښتیا سوله کوي، نو د دې شونتیا هم شته چې امریکا له امنیتي ځواکونو سره د جگړې د شدت له امله همکاري بنده کړي. وسله وال طالبان هم که سوله کوي او په دې چاره کې جدي وي، نو پکار ده چې له خپله اړخه نرمي وښيي. دوی باید یرغلیز حالت پرېږدي او پکار ده چې وښيي، دوی په سوله کې جدي دي او غواړي چې روانه جگړه ختمه شي. امریکا او بیا په ځانگړي ډول خلیلزاد باید د امریکا له اړخه د جگړې د شدت کمولو لپاره هم هڅه وکړي او له طالبانو او حکومت څخه هم په جدیت سره د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه وکړي.

# د سولې اغزنه لار او د مصالحې ټیم ازمون

لیکنه: انتظار خادم

کلونه وړاندې د سولې عالي شورا رامنځته شوه. بې له دې چې په پایلو، چارو او لارو یې بحث شوی وی، په عجولانه ډول د سیاسي فرمایشونو لپاره تش په نامه لوی نومونه انتخاب شول. د دې پر ځای چې د سولې پر چوکاټونو، د خبرو پر لارو، د سیمې هېوادونو په تفاهم او له طالبانو سره د روغې جوړې لارې وپلټې، د ځانې گټو د تحقق او خوندیتوب سیالي پیل شوه. د سیاسي تقلې، لومړیتوب، اهمیت او اوجاغۍ په دې لوبه کې ملت ډېر زیات زیان ولید. زرگونه نه، بلکې سلگونه زره خلک شهیدان شول، میندې بورې شوې او کونډې ړنگې شوې. جگړه اوږده شوه، وېروونکې شوه، پېچلې شوه او حتی ډېر لوی لوی سیاسي شنانديي، روڼ اندي او محققین یې په سور او تال نه پوهېدل. د دې مرگونې جگړې اور تر ننه راورسېد. کله چې ولسمشر غني په بروکسل کې بهرنیانو ته وینا کوله، نو ویل یې چې زما د قدرت په دوره کې ۴۵۰۰۰ افغان ځواکونه وژل شوي، یعنې ۴۵۰۰۰ کورنۍ ویجاړې شوې او یوازې ۴۵ امریکایي عسکر وژل شوي دي.
په تېرو څلورو کلونو کې د سیاسي بهیرونو جنازې ووتې او ارزښتونه ووژل شول. د بېلگې په توگه، د ولسي جرگې دوره د اساسي قانون خلاف وغځول شوه، ۷۵ سلنه اساسي قانون تر پښو لاندې شو، حکومت د قانون پر بنسټ نه، بلکې د جوړجاړي پر لار جوړ شو، د فقر کرښه له پنځوس سلنې واوښته او سیگار وايي چې د تېرو اوولسو کلونو په پرتله، په ۲۰۱۸ ز کال کې ډېر ملکي وگړي وژل شوي او ډېرې هوایي بمبارۍ شوې دي.
د امریکا د پخواني قوماندان نېکلسن له فورمول سره سم پر طالبانو نظامي، سیاسي، ډیپلوماتیک او مذهبي فشار واچول شو، خو طالبانو مقاومت وکړ. نوی قوماندان جنرال میلر له نوي فورمول سره رامخکې شو، خو دا ځل د امریکا فورمول ښکاره سوله ییز او پټ نظامي وو.
د امریکا، نړۍ او افغان حکومت له ټولو (تش په نامه) هڅو سره سره، بیا هم د طالبانو د نفوذ ساحه پراخه شوه. څو ورځې مخکې هم بالامرغاب ولسوالۍ سقوط وکړ. افغان ځواکونو سینه سپر کړه، مخکې لاړل څو سیمه تر کنټرول لاندې کړي، خو جگړه اوس هم روانه ده. ښاغلي غني او د هغه استازي ډاکټر محب بیا بیا په هېواد کې پر طالبانو سربېره، د ۲۱ تروریستي ډلو د وجود خبره وکړه. اوس نو پوښتنه دا پیدا کېږي چې ایا حکومت او نړیوالې ټولنې تروریزم ختموي او که یې زېږوي؟ ایا حکومت خبر نه و چې دا دومره ډلې پیدا کېدلې که نه، په توان یې پوره نه وه، که خبر نه و؟ خو لویه مدیریتي نقیصه او سیاسي انتحار دی او که خبر و او مهار یې نه شو کړای، نو په ټوله کې د تروریستانو او طالبانو پر وړاندې د حکومت او نړیوالې ټولنې د نسبي ناکامۍ ښکاره نښه ده.
د جنگ لپاره درې ډوله وسایل پکار دي، چې زه ورته درې میمه وایم او عبارت دي له: مرام، مورال، او منابع څخه.
که یوازې پر منابعو (نظامي سرچینو) وغږېږو، نو له اېن بي سي ټلوېزیون سره د ښاغلي غني مرکه به رایاده شي، چې ویل یې که امریکا نه وي، نو په شپږو میاشتو کې حکومت سقوط کوي، ځکه نو په ۲۰۱۹ ز کال کې د سولې او جنگ ځانگړتیاوې بدلې شوې دي.
زما په اند، په تېرو کلونو کې جنگ او سوله د ډېرو محدودو خلکو له خوا د خیرنو عینکو له لارې لیدل کېدل. چاته جنگ لنگه غوا او چاته جنگ د موقف ساتنه وه، خو مورگانې د نورو خلکو بورېدلې.
ټرمپ د مزاج او انداز په لحاظ متفاوت انسان دی. د جنوبي اسیا ستراتېژۍ یې روښانه لارې لري. یوه مسئله پکې د افغان جگړې پای دی. د خپل حکومت په دوره کې یې د افغان جگړې په اړه حیرانوونکې څرگندونې کړې دي. تېره اونۍ یې د ناټو له مشر سټولټنبرگ سره په خبرو کې افغان جگړه (شرم) یاد کړه. پخوا یې ویلي وو چې نور افغان حکومت ته سپین چیکونه نشته. له دې خبرو یې ښکاري چې نوموړی نور په افغانستان کې د پاتې کېدو او نښلېدو حوصله نه لري، ځکه یې نو افغان- امریکایي پیاوړی ډیپلومات، خلیلزاد د سولې د راتگ لپاره وگوماره. له اولې ورځې خلیلزاد خپل واضح درېځ لري. لومړی دا چې افغانان باید په خپلو کې سره رضا شي او سوله وکړي او دویم دا چې امریکایان له هېواده عجولانه بهر شي او افغانستان د جنگ پر دوزخ بدل شي.
خلیلزاد له اولې ورځې د ملي مذاکره کوونکي ټیم د جوړښت وړاندیز وکړ، خو ډاکتر غني بدبختانه ۱۱ نفریز فرمایشي ټیم وټاکه.
دا ټیم د مسلک، ژمنتوب، سیاسي پلوۍ، عملي تجربې او ټولنیز باور په لحاظ مناسب ترکیب نه و. په دغه ټیم کې د عام ملت، ځوانانو، مدني ټولنې، عالمانو او سیاسي اپوزیسیون استازولي نه وه، ځکه نو حکومت په یوه وخت د سیاسي مشرانو، سیاسي منتقدینو، رسنیو، امریکا او طالبانو له مخالفت سره مخ شو. کله چې خلیلزاد په حکومت کې د ټولشمول مذاکره کوونکي ټیم د تشکیل غږ وکړ، حکومت خلیلزاد تورن کړ چې غواړي له طالبانو سره د نظام پر سر معامله وکړي، پلان لري کتاب ولیکي او میلیونر شي، غواړي د موقتې ادارې په راس کې راشي، د نوبل جایزې ته نوماند شي او امثالهم چې بالاخره خبره تر واشنگټنه ورسېده او پایلې یې مطلقې د ښاغلي غني او حکومتي ټیم په تاوان تمامې شوې.
اوس د ښاغلي غني لپاره دوې لارې دي:
لومړی: دا چې پخوانی مذاکره کوونکی ټیم وساتي او د خلیلزاد، ملت، اپوزیسیون او طالبانو د مخالفت او انتقاد سره مخامخ شي.
دویمه: دا چې د مصالحې نوی ټیم همدا شان وساتي او په لوی قوت له طالبانو سره مخامخ او د راتلونکي په اړه پرېکړه وکړي.
د مصالحې د ملي ټیم جوړول په رښتیا هم چې د طالبانو شرط، د امریکا وړاندیز، د اپوزیسیون درېځ او د ملت غږ دی.
بې له دې چې حکومت پر دغه ټیم خپل فرمایشات تحمیل کړي، دغه ټیم تر فشار لاندې راولي، لازمه ده چې د مصالحې ټیم د ځان لپاره کړنلاره جوړه کړي څو په هغه کې اړوند تشکیلات، سرې کرښې، ملي ارزښتونه او ضرب الاجلونه معلوم وي.
له دغو اصولو پرته، ممکن د مصالحې ټیم د سولې عالي شورا ته ورته وي چې مصارف او ضایعات به لري، خو پایلې نه. که حکومت په دغه ټیم کې د ښکاره او پټې مداخلې هڅه وکړه، نو په ټیم کې به انشقاق او اختلاف رامنځته شي چې په نتیجه کې به یې ملت د حکومت په سیاسي تقدس بې باوره شي، طالبان به غښتلي او ټیم به کمزوری شي او حکومت + اپوزیسیون به بیا سره مخالف شي.
د داسې وضعیت په پایله کې به بیا جگړه اوږده شي، نور انسانان به ووژل شي او یا به په ټوله کې نظام، حکومت او سیاسي پروسې له مطلق سقوط سره مخ شي.
اوسنی وضعیت نورمال حالت نه دی. په داسې وضعیت کې فوق العاده مدیریت ته اړتیا ده. جگړه ختمول او سوله راوستل پکار دي. لازمه ده چې حکومت د جوش پر ځای له هوشه کار واخلي. حالاتو ته له رڼو عینکو وگوري. سوله وکړي، قدرت تقسیم کړي. د ملت غږ ته لبیک ووایي او خپل سیاسي اخلاق د تاریخ نمایش ته کېږدي.
اوس سوله راتلونکې ده. هېڅوک هم له طالبانو سره د سولې خبرې نه شي ناکامولی، البته اوږدولی یې شي، جنجالي کولی یې شي، نسبي بې گټې کولی یې شي، خو متوقف کولی یې نه شي؛ ځکه چې امریکا سوله غواړي، ملت سوله غواړي او نړۍ سوله غواړي. زه هم سوله غواړم او ته هم سوله غواړې، خو هو! ارومرو داسې سوله نه چې په هغې کې ارزښتونه قرباني شي. موږ ۲۰، ۳۰ او ۴۰ کاله پخوا وختونو ته نه ځو. حکومت هم د ارزښتونو خبره کوي او موږ هم، خو دغه ارزښتونه تعریفول غواړي.
د حکومت له ارزښتونو څخه هدف څه دی؟ یوازې د حکومتي چارواکو د قدرت بقا، که د ملت سوکالي، د جگړې درېدل او داسې نور؟!
هوښیاران وايي چې کله کله لازمه وي د لوی ټوپ وهلو لپاره سړی څو قدمه وروسته لاړ شي. باور لرم چې موقته اداره راتلل، قدرت تقسیم کول، ټاکنې ځنډول، بعضې قوانین تعدید کېدل په ښکاره وروسته تگ دی، خو راځئ د بد او بدتر ترمنځ انتخاب وکړو.
ایا لازمه ده چې پورته سیاسي تغیرات تحمل کړو او که هره ورځ د ډاکتر غني په خبره، ۲۰۰ شجاع عسکر له لاسه ورکړو؟ حتماً به ځواب دویم انتخاب وي. ښاغلي خلیلزاد په خپل وروستي سفر کې ارگ مېشتو او سیاسي مشرانو ته ښکاره، خو ښکلی پېغور ورکړ چې په دغه جنگ کې عام ملت قرباني کېږي، نه ستاسو او زموږ اولادونه، ځکه خو د سولې مخالفت کوو. هو همداسې ده. عام ملت وژل کېږي او هره ورځ ۲۰۰ پلرونه د خپلو بچو جنازې په اوږو کوي، ځکه نو غوره ده چې د سولې په معامله کې څه واخلو او د څه ورکړې ته تیار شو.
هیله ده چې د مصالحې ټیم له ټولو ذکر شوو کړکېچو سره سره، بیا هم بریالی شي. پر مخ لاړ شي، د ملت سمه استازولي وکړي، ملي ارزښتونه وساتي، له طالبانو سره تفاهم ته ورسېږي او تاریخ ته ځان سپین کړي.
زه وړاندیز کوم چې حکومت پر دغه ټیم سربېره، د سولې په اړه د ملي ډیالوگ زمینه برابره کړي. په هر زون، ولایت، اکاډمیکو بنسټونو او پوهنتونونو کې د سولې ازاد بحثونه وشي.
لازمه نه ده چې د سولې په اړه حتی د مناسبو، گټورو او ملي نظرونو په اړه سیاستوال، لیکوالان او منتقدین د حکومت د پلویانو له اړخه وښکنځل شي، توهین شي او عام افکار مغشوش کړای شي؛ بلکې سوله گډ ماموریت وگڼل شي چې حکومت او ملت پکې ځان شریک ووینې.
نننۍ ورځې د راتلونکې لپاره بنیاد دي. د جگړې ختمول د ملت کار دی. هیله ده چې هر فرد خپل انساني او اسلامي مسوولیت ادا کړي او د دې پر ځای چې د شخصي او ټیمي گټو لار تعقیب کړي، د بورې مور ساندې، د یتیم بچي زگېروي او د کونډې مېرمنې ارمانونه سترگو ته ودروي او دا خوار ملت د سولې په ډالۍ ونازوي.
زه د مصالحې نوي ټیم په نېک پال نیسم. هیله ده چې د نېکو پایلو خاوندان شو او دغه کال په ټول هېواد کې سرتاسري سوله قایمه شي.

## نشنل انټرسټ: افغانستان د خپل ملي امنیت سلاکار د چلند له کبله درنه بیه پرې کوي



نشنل انټرست وېبپاڼې د واشنگټن لخوا د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب پر وړاندې د اخیستل شویو گامونو په اړه لیکنه خپره کړې ده.
په لیکنه کې راغلي چې محب امریکا ته د تېرې میاشتې د سفر پر مهال، د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پر ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ځینې جدي تورونه ولگول او دا د دې لامل شول، چې اوس یې افغانستان په مقابل کې درنه بیه پرې کوي.
سرچینه کاږي، د امریکا حکومت پوهېږي چې محب پر خلیلزاد په عام محضر کې دا تورونه د خپل ولسمشر لپاره لگولي او د امریکا ځواب هم د دې لپاره دی، چې اشرف غني ته د داسې کړنو د نه تکرارېدو پیغام ورکړي.
سرچینې زیاته کړې: «پامپیو ښایي په دې ډېر ښه پوهېده چې محب دا هر څه د ځان لپاره نه، بلکې د خپل ولسمشر لپاره ویلي دي. پامپیو ښایي د هغه د مجازاتو لپاره نور دلایل ولري. دا گام غني ته پیغام ورکوي چې بیا په ځانگړې توگه په عام محضر کې د ټرمپ د ادارې پر وړاندې له حده وانه وړي».
د نشنل انټرسټ په دې مقاله کې راغلي، چې د افغانستان ولسمشر د امریکا له غبرگون وروسته، تر سخت فشار لاندې دی.
په مقاله کې وړاندې ویل شوي، چې امریکا باید د محب پر وړاندې درېځ نرم کړي، ځکه دا طالبانو ته د سولې په روانه پروسه ناسم برداشت ورکولی شي.

## حقوقي شنونکي: د مشرانو جرگې د کار دوام مشروعیت نه لري او د قانون خلاف دی




سره له دې چې د ملي یووالي حکومت پر مهال د ولسي جرگې په کار کې ډېرې ستونزې موجودې وې، اوس د مشرانو جرگې قانوني مشروعیت هم تر پوښتنې لاندې راغلی دی. د ملي یووالي حکومت له پیل وروسته د ولسي جرگې کاري موده پوره شوه، خو ولسمشر غني د یوه فرمان له لارې د دوی کاري موده وغځوله، چې بیا یې همداسې تر تېر ژمي پورې دوام وکړ. سره له دې چې د ولسي جرگې ټاکنې تر ډېرو ستونزو وروسته وشوې، خو تر دې دمه یې وروستۍ پایلې نه دي اعلان شوې.

اوس د مشرانو جرگې قانوني مشروعیت هم تر پوښتنې لاندې راغلی دی او د حقوقي شنونکو په باور، د دغه شورا دوه ثلثه نه پوره کېږي، نو ځکه قانوني مشروعیت نه لري. شنونکي وایي، د مشرانو جرگې د دوو ثلثو کاري دوره پای ته رسېدلې او د جرگې د کار دوام حقوقي مشروعیت نه لري. د دوی په خبره، د مشرانو جرگې دوه ثلثه چې انتخابي دي، موده یې پوره شوې او اوس یوازې په ۳۴ انتصابي سناتورانو نصاب نه بشپړېږي او د کار دوام یې حقوقي مشروعیت نه لري.

مشرانو جرگه چې غړي یې له دریو ثلثو ولسوالیو شورا، ولایتي شورا غړو او انتصابي سناتورانو جوړه ده، د دوو ثلثو کاري موده یې پای ته رسېدلې ده. د حقوقي چارو شنونکي وایي، د اساسي قانون د ۸۴مې مادې له مخې، د ملي شورا مشرانو جرگې انتخابي غړو کاري موده پای ته رسېدلې او د دې جرگې نصاب یوازې په ۳۴ انتصابي غړو نه تکمیلېږي.

شنونکي وایي چې مشرانو جرگه حقوقي مشروعیت نه لري، نو د کار دوام او پرېکړې یې د قانون خلاف دي. د حقوقي چارو شنونکی سبحان مصباح وایي: ((د افغانستان د اساسي قانون په ۸۴مه ماده کې راغلي، چې دغه جرگه به له دریو ثلثو جوړېږي. اوس چې د انتخابي پوستونو معیاد ختمېږي، نو مشرانو جرگه خپل قانوني مشروعیت له لاسه ورکوي)).

د حقوقي چارو شنونکي وایي چې حکومت پر وخت د ولسوالیو او ولایتي شورا انتخابات ونه شوای کړای او اوسمهال یې د دوو انتخابي دورو کاري موده ختمه شوې. حقوقپوه عبدالستار سعادت وایي: ((حکومت ټاکنې ونه شوای کړی. د دوی د کار دوام حقوقي مشروعیت نه لري. د سنا دوې برخې نشته، خو یوه برخه یې چې ۳۴ کسان کېږي او انتصابي سناتوران دي، پرېکړې نه شي کولی او قانوني مشروعیت نه لري)).

په همدې حال کې د ملي شورا پخواني غړي نیوکه کوي، چې د انتخابي سناتورانو کاري مودې له پای ته رسېدو پرته په ۳۴ انتصابي سناتورانو کې هم ستونزې شته. دوی وایي چې د ښځو، معلولینو او کوچیانو پر ځای، ولسمشر په سلیقوي ډول سناتوران انتصاب کړي دي. پخوانی سناتور شېرمحمد اخوندزاده وایي، ډېرې اوسني سناتوران د ولسمشر له لوري په سلیقوي ډول ټاکل شوي او هېڅ ډول معیار په پام کې نه دی نیول شوی، په داسې حال کې چې د سناتورانو د انتصاب لپاره ځانگړي شرایط موجود دي.

حقوقي شنونکي او د ملي شورا پخواني غړي اندېښنه ښیي، چې اوسمهال دولت نیمگړی دی او د دغه حالت مسوولیت ټاکنیزو کمېسیونونو او حکومت ته ورگرځي.

## اکبر اغا: د سولې رواني خبرې د جگړې د پای ته رسېدو لپاره ښه فرصت دی



د خلاصون لارې عالي شورا ویلي، په هېواد کې دننه او بهر د افغان سولې په تړاو رواني خبرې په هېواد کې د جگړې د پای ته رسېدو او د تلپاتې سولې د ټینگښت لپاره ښه فرصت دی او باید افغان دولت او وسله وال طالبان یې له لاسه ورنه کړي.

د یادې شورا رییس سید اکبر اغا ویلي، دولت او طالبان د یو څه سیاسي قربانیو په منلو سره کولی شي، چې په جگړه ځپلي هېواد کې سوله حاکمه کړي.

نوموړي زیاته کړې: «دواړو طرفو ته وایو چې له دې فرصته دې په اسلامي او افغاني معیار برابره گټه واخلي، څو له دې مشکله خلاص شو. له حکومته دا تقاضا لرو چې قرباني ورکړي، له طالبه هم دا تقاضا لرو چې قرباني ورکړي، تر مابین یې خبرې وشي، نو صلحه به راشي».

نوموړي تېره ورځ په گردېز کې له قومي مشرانو، ځوانانو او علماوو سره هغه طرحه او وړاندیزونه شریک کړي، چې یاده شورا یې د بین الافغاني مذاکراتو له لارې په افغانستان کې د تلپاتې سولې د تامین لپاره اړینه او گټور بولي.

نوموړي زیاته کړې: «زمونږ له دواړو طرفو دا غوښتنه ده چې د سولې لپاره یو معیار وټاکي، البته دوه معیاره مونږ په نظر کې لرو، یو معیار یې اسلامي معیار او دوهم معیار یې دا ملت وي، ملت افغانستان ثالث بالخیر واقع شي، په ملت کې مونږ ښه علما لرو، ښه قومي سپین ږیري لرو او ښه استادان لرو، له هرې طبقې ښه ښه خلک لرو چې هغه په افغانستان کې سوله غواړي، نو هغه سوله به پایداره او دایمي وي».

د خلاصون د لارې عالي شورا مشر او ځینو غړو یې په گردېز کې د یادې غونډې په ترڅ کې په افغانستان کې د تلپاتې سولې د راتلو په پار، د افغانانو ترمنځ پر بین الافغاني خبرو اترو د ټینگار تر څنگ، د افغان سولې په تړاو له روانو مذاکراتو خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

## عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د ماشومانو مړینه په بې ساري ډول راټیټه شوې ده



عامې روغتیا وزارت ویلي، په هېواد کې د ماشومانو مړینه په بې‌ساري ډول راټیټه شوې ده. د دغه وزارت چارواکو تېره ورځ د روغتیا د پایلو اتم کنفرانس ته ویلي، چې پخوا تر پنځه کلنۍ د ښکته عمر په ماشومانو کې له هرو زرو ۲۵۷ یې مړه کېدل، خو اوس دغه شمېره ۴۹ ته راښکته شوې ده.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي معلوماتو د مدیریت او ارزونې مشر، عطاالله سیدزي د کنفرانس په څنډه کې رسنیو ته ویلي: «د ماشومانو مړینه تر ډېره حده ټیټه شوې ده، یعنې په هر زرو ماشومانو کې ۴۹ تنه مړه کېږي. لاهم کارونو ته اړتیا ده او باید ټول وزارتونه په گډه د عامه پوهاوي لپاره کار وکړي». د عامې روغتیا وزارت مسوولینو دغه راز ویلي، د دوی موندنې ښیي چې په هېواد کې ۹۰ سلنه خلک روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري. دوی ویلي، هڅه کوي چې خپل روغتیایي خدمتونه لا پراخ کړي.

بلخوا د هېواد د ځینو ولایتونو او لرې پرتو سیمو اوسېدونکي هم د روغتیایي خدمتونو کمښت یا نه لاسرسي له ستونزو سره مخ کړي او هڅه کوي چې خپل ناروغان د ښې درملنې په موخه مرکز کابل ته را انتقال کړي. له پروان ولایته راغلې مېرمن مکۍ چې خپل ماشوم زوی یې د درملنې لپاره د کابل د ماشومانو د روغتیا انسټېټیوټ اندراگاندي روغتون ته راوړی، ویلي: «صحت طفل ته په دې راغلې یم چې په پروان کې مې ماشوم ښه نه شو، ورځ تر بلې مې د ماشوم حالت خرابېده، اوس مې دا ماشوم دلته په روغتون کې بستر کړی دی». بلخوا د ملگرو ملتونو له ماشومانو د ملاتړ ادارې یا یونیسف د وروستي راپور له مخې، چې په روان زېږدیز کال کې خپور شوی، په افغانستان کې د ماشومانو د ژوند د خوندیتوب لپاره د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې له هڅو سره سره، په دغه هېواد کې اوس هم د زېږون پر مهال د میندو او ماشومانو د مړینې کچه خورا لوړه ده. دې ادارې ویلي چې په افغانستان کې اوسمهال د له پنځو کلونو څخه د ښکته عمر لرونکو ماشومانو په هر زرو تنو کې، ۵۵ یې دغه عمر ته تر رسېدو مخکې مړه کېږي.

## راپوروونه: امریکا د ایران «سپاه پاسداران» ځواک رسماً د ترهگرو په نوملړ کې شامل کړی دی

امریکا د ایران سپاه پاسداران ځواک رسماً د ترهگرو ډلو په نوملړ کې شامل کړ.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دوشنبې پر ورځ اعلان وکړ چې د ایران «سپاه پاسداران» یا د انقلاب ساتونکی ځواک به له دې وروسته د یوې بهرنۍ ترهگرې ډلې په توگه پېژني. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، دا ډله به په یوه اونۍ کې رسماً د ترهگرو ډلو نوملړ ته ور گډه شي.

دا لومړی ځل دی چې امریکا د یو بل هېواد د پوځ یوه برخه د ترهگرې ډلې په توگه اعلانوي، خو د ولسمشر ټرمپ د دې پرېکړې مخالفین وایي، له دې سره به نورو هېوادونو ته هم پلمه په لاس ورشي چې د امریکایي ادارو او دولتي چارواکو پر وړاندې ورته گامونه واخلي.

امریکا تر دې وړاندې یو شمېر کسان او ادارې د ایران له سپاه پاسداران ډلې سره د اړیکو له کبله په تور لېست کې شامل کړي وو، خو دا لومړی ځل دی چې پخپله دا ډله د یوې ترهگرې ډلې په توگه اعلانوي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي، د امریکا حکومت د ایراني رژیم د ترهگرۍ د مخنیوي لپاره دا گام پورته کړی دی.

ښاغلي پامپیو لیکلي: «موږ باید د ایران له خلکو سره مرسته وکړو چې خپله ازادي بېرته وگټي».

د هغه په وینا، د ترهگرۍ کارول د ایراني رژیم د بهرنۍ پالیسۍ مهمه برخه ده او د امریکا دغه گام به د ایران د دې تباه کوونکې پالیسۍ مخه ونیسي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ایران سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو قوماندان محمدعلي جعفري گواښ کړی و، چې که امریکا دغه پرېکړه وکړي، یاد هېواد به په لوېدیځه اسیا کې له شته امنیته خلاص شي.



د ایران فارس خبري اژانس د جعفري په حواله ویلي و، چې په دغه کار سره به د امریکا پوځیان هغه ارامي چې دوی یې ان په لوېدیځه اسیا کې لري، نوره ونه ویني.

## د کتــاب خبـري

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### اتم څپرکی

**خپل ذهنیت د ځان ملاتړی کړئ**



زه داسې ډېر مدیران پېژنم چې شرکتونو یې د کور له سامانونو سره، نورو ښارونو ته دندې لپاره لېږل، خو دا کار هغوی ته لویه ستونزه وه. زیاترو به یې ویل چې دې نوي ځای تلل مې له سره په خیال کې هم نه راځي، نه یې په اړه فکر کولای شم.
نوي چاپېریال سره د بلدېدو او لېواله کېدو لاره دا ده: نویو ځایونو کې وګرځئ. خپل چاپېریال وپېژنئ. خلکو سره ناسته پاسته وکړئ. ځان له هماغه لومړۍ ورځې د دې ټولنې یو غړی وبولئ ... که مو دا کارونه وکړل، نوي چاپېریال سره به عادت شئ.
نن سبا میلیونونه امریکایان په کاروباري اسنادو کې پانګونه کوي، خو میلیونونه داسې هم شته چې د ونډو له بازار سره هېڅ علاقه نه لري. دا ځکه چې خلک د ونډو له بازار او د هغه د کاروبار له لارو چارو او ښېګڼو سره نه دي بلد.
نو که غواړئ خلکو، ځایونو او کاروبارونو سره مو علاقه پیدا شئ، په اړه یې معلومات پیدا کړئ، ژور پکې لاړ شئ. په هره شي کې چې ژور لاړئ، علاقه مو ورسره زیاتېږي. له دې وروسته چې د خپل شوق خلاف هر کار ته اړویستل شوئ، دا تجربه وکړئ، یوازې ژور لاړ شئ، معلومات پیدا کړئ، شوق به مو ورسره پخپله زیات شي.
۲. هر شي ته ساه ورکړئ. شوق او بې شوقي زموږ په کارونو او خبرو کې ښکاري.
ژوندی روغبړ وکړئ، چاته چې لاس ورکوئ، مړ او مړاوی لاس مه ورکوئ. لاس ورکړئ، ښو واړه ټکانونه ورکړئ، پر لاس یې زور وکړئ، ورته ووایئ: (ستاسې په لیدو خوښ شوم، خدای دې وکړي چې بیا سره ووینو، هر کله راشئ.) په نه زړه او مجبوری لاس ورکولو نه، بیخي لاس نه ورکول ښه دي. ځکه که په نه زړه لاس ورکړئ، خلکو ته مړاوی ښکارئ. د بېلګې په توګه یو داسې کس پیدا کړئ چې بریالی دې وي، خو خلکو ته دې لاس په نه زړه ورکوي.
خندا مو ژوندۍ کړئ. سترګو کې وخاندئ، دروغجنه او په نه زړه موسکا د هېچا نه خوښېږي. که خاندئ، له زړه وخاندئ. دې ته مه ګورئ چې غاښونه به مو ښکاره شي. ښایي غاښونه به مو دومره ښکلي نه وي، خو غم یې مه کوئ. ځکه تاسې چې خاندئ خلک ستاسې خندا ته نه ګوري، تاسې او ستاسې اخلاص او خوش خلقۍ ته ګوري.
مننې ژوندۍ کړئ. ماشیني او مصنوعي مننې مه کوئ. هسې عادتي کارونه مه کوئ. ځکه دا هېڅ ګټه نه لري، هڅه وکړئ چې مننه مو د (ډېرې زیاتې مننې) مانا ولېږدوي.
خبرې مو ژوندۍ کړئ. دوکتور جمیز الف. بیندر ښه ویناوال دی، دی په خپل مشهور کتاب (څنګه ښې خبرې وکړو؟) کې وایي: (ستاسې سهار پخیر، رښتیا هم پخیر دی؟) (مبارکي په مینه ورکوئ؟) (ستاسې حالت څنګه دی؟ آیا په زړه کې مینه پیدا کوئ؟) که مو خپلې خبرې په مینه ناکو احساساتو کې رنګ کړې، نو د ملګرو پیدا کولو او جلبولو ښه وړتیا به هم ومومئ.
خلک له هغو سره ملګري کېږي چې په خپلو خبرو باور ولري، نو خپلې خبرې له زړه وکړئ. خپلې خبرې ژوندۍ کړئ. له هر چا سره په مینه وغږېږئ، که مو بچي وي، که پېرودونکي وي، که بل څوک وي، خبرو کې ورسره مینه مه هېروئ. کومې خبرې چې د زړه په مینه او شوق وشي، ښایي میاشتې او کلونه په زړونو پاتې شي، خو د مړې او بې مینې وینا اغېز د اونۍ تر اخېره هم نه غځېږي.
نو خپلې خبرې ژوندۍ کړئ، خوندورې یې کړئ، پرشوره یې کړئ، تاسې به خبر هم نه یئ، خو دې شور به ګټه در رسولې وي. دا تجربه همدا اوس وکړئ، په لوړ غږ ووایئ چې: نن مې حالت ډېر ښه دی! ایا رښتیا مو حالت تر تېرې شپې ښه نه دی؟ ځان ژوندی کړئ او په ټولو حواسو ځان ژوندی احساس کړئ. داسې شئ چې ستاسې د هر کار او هرې خبرې په اړه خلک وایي چې: دا ډېر ژوندی انسان دی، ډېر هدفمند انسان دی، ډېر پرمختګ به وکړي.
۳. ښه زېري او خبرونه ورکړئ. تاسې به لیدلي وي چې زیاتره وخت یو کس ناڅاپه راشي او وایي چې (زېری مې دربانديې!) د ټولو خلکو سترګې همدې کس ته شي. ښه خبرونه او زېري نه یوازې د خلکو پام در ګرځوي، بلکې هغو ته خوښي هم ورکوي. ښه زېري او خبرونه د انسان روح تازه کوي، ساه ورکوي او حتی د خوړو د ښه هضم لامل کېږي.
خو د ښو زېرو له راوړونکو د بدو راوړونکي ډېر دي، خو اندېښنه مه کوئ، نه چا په بدو خبرو او بدو زېرو ملګري پیدا کړي او نه پرې په کوم کار کې بریالي شوي دي.
خپلې کورنۍ ته ښه زېري یوسئ. د ورځې ښې پېښې ورته ووایئ، خپلې خوندورې خاطرې او تجربې ورسره شریکې کړئ او ناسمې پېښې د تل لپاره خښې کړئ. ښه زېري خپروئ. بد زېري او بدې خبرې خپرول بد کار دی. دا مو کورنۍ خپه کوي، ذهن یې نارامه کوي، نو هڅه وکړئ چې هره ورځ کور ته رڼا او خوشالي یوسئ.
(پلار مې اوس هم د خپل پلار له قوله راته وایي چې له کوره بهر درسره چې چا هر څومره بد وکړل، جنګ دې وکړ، بله څه بده خبره وشوه، ان که ډېر تکلیف دربانديې هم و، موږ ته یې کور کې مه وایه، ځکه زموږ به درسره له لاسه هېڅ نه کېږي، خو هسې به درته زړه خورو او ځورېږو به ... ژ)

**دوام لري...**

# غوټۍ خاوري

شفیق امیرزی



غوټۍ خاورې د پښتو ادبیاتو او څېړنې مخکښه محققه او لیکواله وه، چې د (روان کال د اپرېل په پنځمه د جمعې په ورځ) د ورپېښې ناروغۍ له امله له دې فاني نړۍ لاړه. اروابښادې خاورې د پښتو ژبې او ادب لپاره د پام وړ کارونه کړي دي، چې د دې برخې محققین او مینه وال د قدر په سترګه ورته ګوري.
آغلې غوټۍ خاورې د پښتو د شفاهي ادبیاتو په برخه کې څېړنې او ټولونې کولې، خو تر څنګ یې د ادبیاتو په نورو برخو کې هم پراخه مطالعه لرله او لیکنې یې ورباندې کولې.
اروابښادې د هېواد په سختو شرایطو کې زده کړې کړې وې، کار یې کړی و او د هېواد په ستر علمي مرکز (علومو اکاډمۍ) کې یې دنده درلوده. نومړې ان له لومړنیو کلونو د خپلو نورو همزولو لپاره سرلارې وه. پلار یې په ماشومتوب کې له کابل کلي ته ولېږله، چې هلته په ښوونځي کې شامله شي او په دې توګه د کلي نورو نجونو ته د زده کړو زمینه برابره کړي. هغه وخت د غوټۍ خاورې په پلرني کلي کې د لومړي ځل لپاره د نجونو ښوونځی جوړ شو، خو د دې لپاره چې د کلي نجونې زده کړو ته زړه ښه کړي، د غوټۍ خاورې پلار نومورې کلي ته ولېږله او هلته یې ښوونځي کې شامله کړه. له همدې ورځې یې له زده کړو خوند اخیست او سترې هیلې یې لرلې. غوټۍ خاورې به ویل، زه پلار د دې لپاره په ښوونځي کې شامله کړم، چې د نورو لپاره یوه بېلګه شم او هغوی په دې پوه شي چې په ښوونځي کې د نجونو شاملېدل ګناه او عیب نه، بلکې یو غوره او انساني کار دی.
ګل غوټۍ خاورې د ۱۳۴۰ لمریز کال په کب میاشت کې د ننګرهار د روداتو ولسوالۍ په حصارشاهي کلي کې زېږېدلې ده. خاورې د شاه ولي خان خاورې لور او د حاجي عبدالغفار خان لمسۍ وه.
هغه مهال په روداتو کې په تېره بیا د آغلې غوټۍ خاورې په کلي کې د ښځینه ووڅه چې ان د نارینه وو زده کړو ته هم په ښه سترګه نه کتل کېدل. آغلې غوټۍ خاورې پخپله ویلي وو، هغه نجونې به رټل کېدې چې ښوونځي ته به تلې. د آغلې په خبره، هغه مهال چې په ۱۳۴۶ لمریز کال کې زموږ سیمې ته د نجونو لومړنی کلیوالي ښوونځی جوړ شو، ځینو خلکو ورسره مخالفت وکړ، ځکه چې د یوې نجلۍ لپاره په ښوونځي کې درس ویل د شرم خبره ګڼل کېده. هغه هلکان به رټل کېدل چې خویندو به یې ښوونځی لوست. همداسې هغه ځوانان به رټل کېدل چې عسکري به یې کوله. د کلي ماشومانو او ځینو ښځو به په دوی پسې شعرونه او سندرې جوړولې او توهین کول به یې. له همدې امله په کلي کې د غوټۍ لپاره ژوند سخت و. سره له دې چې پلار یې غوښتل، کلیوال د غوټۍ په لیدو خپل اولادونه او لورګانې ښوونځي ته ولېږي، خو بالاخره دا حوصله ختمه شوه. غوټۍ یې بېرته کابل ته راوسته او دلته یې په رابعه بلخي ښوونځي کې زده کړې پیل کړې.
هغه له کلي راغلې وه، ځکه خو په دري ژبه نه پوهېده. غوټۍ خاورې ته د ښوونځي چاپېریال خورا سترې کوونکی او سخت تمام شو. د نومورې په خبره، ښوونځی راته زندان شو، پلار به ښوونځي ته بوولم او ما به کور ته زور کاوه، خو دا سختۍ تېرېږي. د محبوبې په نامه ښوونکې هغه وخت له ګل غوټۍ سره ګوډه ماته پښتو وایي او دا هڅه وي. ورته وایي چې د ټولګي تر ټولو تکړه زده کوونکې یې. د پلار په هڅونه او د ښوونکې په پاملرنه غوټۍ د خپل ټولګي ممتازه زده کوونکې کېږي.
آغلې ویلي، سره له دې چې په حساب، دیني مضامینو، پښتو او ریاضي پوهېده، خو د ژبې ستونزې یې له ښوونځي زړه تور کړی و. غوټۍ خاورې په همدغه ښوونځي کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکوي.
په لسم ټولګي کې وه، چې په ملي راډیو ټلوېزیون کې پر دنده وګومارل شوه. نومورې د پښتو ژبې ویانده وه. په هغه وخت کې په ټلوېزیون کې کار کول او بیا د ټلوېزیون پر صفحه را څرګندېدل، نه یوازې دا چې له وظیفوي لحاظه یې سخت شرایط او پوره وړتیا غوښته، بلکې په ټولنه کې هم له سخت غبرګون سره مخ کېده. خو غوټۍ خاورې هڅه کوله چې ځان یو ځای ته ورسوي، له محدودیتونو او ستونزو سره سره پردې بریالۍ شوه، چې تر دوو میاشتو کار وروسته، د ټلوېزیون پر صفحه راڅرګنده شي. هغه وخت ملي ټلوېزیون یو ځانګړی وزارت و. د کار شرایط پکې خورا سخت وو. له میاشتو او کلونو کار وروسته هم څوک په دې نه بریالي کېدل، چې پر صفحه د راڅرګند شي، خو غوټۍ خاورې تر دوې میاشتې کار وروسته د ټلوېزیون پر مخ راڅرګنده شوه.
آغلې ویلي، له کار سره سم ډېره وهڅول شوه. په ټولنه کې یې تود هرکلی وشو. د ملي ټلوېزیون وزارت دوه ساعته وروسته پرېکړه وکړه، چې غوټۍ خاورې ته د دوو میاشتو معاش انعام ورکړي. غوټۍ ویلي، له همدې ځایه وهڅول شوم او په ژوند کې مې له ژورنالېزم، ادبیاتو او لیک لوست سره مینه نوره هم ډېره شوه. تر دې چې په ۱۳۵۹ لمریز کال د دوولسم ټولګي تر خلاصولو وروسته، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالۍ شوم. د خاورې په خبره، دا یې د خوښې پوهنځی و. سره له دې چې کورنۍ یې غوښتل طب ووایي، یا په نورو برخو کې زده کړې وکړي، خو د دې خوښه وه چې ادبیات ولولي او په همدې برخه کې فعالیت وکړي.
غوټۍ خاورې ادبیاتو پوهنځی ولوست او بشپړ یې کړ. وروسته یې په همدې برخه کې په کابل پوهنتون کې ماسټري هم وکړه. بیا یې تحقیق، څېړنو، علومو اکاډمۍ او په دولتي مطبوعاتو کې کار او فعالیت ته مټې ونغاړلې.
له پوهنتون څخه تر فارغېدو وروسته یې لومړی په علومو اکاډمۍ کې د زیري جریدې مرستیاله او یو کال وروسته همدلته د علمي کدر غړې شوه. د هغه وخت په سختو شرایطو کې یې زده کړې کولې او دنده یې ترسره کوله. غوټۍ خاورې له کار او دندې سره مینه لرله.
آغلې ویلي، ادبیات یې د دې لپاره انتخاب کړي وو، چې کار یې پکې کولی شوای او مینه یې ورسره لرله. خو کلونه وروسته چې کله د طالبانو حکومت راغی او پر ښځینه وو کار بندیز لګول کېږي؛ نو یوازې هغه ښځینه وو کار کولی شوای، چې دوی طب لوستی وی او ډاکټرانې وی. غوټۍ خاورې ویلي، په چیغو به یې ژړل چې دریغه هغه مهال یې طب لوستی وای، اوس به یې کار کاوه او د خلکو په خدمت کې به وه.
غوټۍ خاورې په علومو اکاډمۍ کې تر ډېره د فولکلور په هکله لیکل او څېړنې کړې دي.
د ننګرهار د خلکو نکلونه یې راټول کړي دي. لنډۍ یې راټولې کړې دي او په ځینو برخو کې یې تحقیقي مقالې لیکلې دي. هغه یوه ښځینه وه. نو دا هم ستر حقیقت دی، چې د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې د ښځو ونډه ډېره ده. غوټۍ خاورې یوې مهمې مسئلې ته متوجه شوې وه او هغه دا چې باید د ښځینه وو له خولې شفاهي ادبیات راټول او خوندي کړل شي. دغه کار نومورې ته ځکه اسانه و، چې په پښتنې ټولنه کې یې له ښځو سره مخامخ خبرې کولی شوای او شفاهي ادبیات یې ترې ثبتولی شوای. خو د علومو اکاډمۍ غړی او د آغلې خاورې نږدې همکار ښاغلی سیدنظیم سیدي د نومورې په اړه ویلي، چې هغې نه یوازې په شفاهي ادب، بلکې د ادبیاتو په نورو برخو کې هم د پام وړ کارونه کړي دي.
غوټۍ خاورې فعاله مېرمن وه. هغه نه یوازې دا چې د علومو اکاډمۍ کې پر کار لګیا وه، بلکې د موقت حکومت په راتګ سره یې بېرته رسنیو او ملي ټلوېزیون ته هم مخه کړه. هلته یې کار کاوه او په همدې وخت کې تر موقتې دورې وروسته، د ولسمشریزو ټاکنو لپاره تیاری روان و. غوټۍ خاورې د هغه وخت د ولسمشر حامد کرزي له لوري د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړې اعلان شوه.
په لنډه توګه ویلی شو، چې د غوټۍ خاورې دندې په ۱۳۶۳ لمریز کال کې د زېري جریدې مرستیالې مسوولې په توګه پیل شوې او بیا د علومو اکاډمۍ د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د ډیپارټمنټ غړې شوه . په ۱۳٦۵ لمریز کال کې د همدغه ډیپارټمنټ مسوله شوه، چې وروسته بیا د کابل مجلې چلوونکې، د باختر آژانس د پښتو څانګې د رسنیو کارکوونکې او غړې هم وه. خاورې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون کمېشنره هم پاتې شوې وه.
غوټۍ خاورې په خپل فرهنګي ژوند کې دغه اثار چاپ کړي دي.

- د پښتو شفاهي ادبیات ـ بڼه او مضمون چاپکال ۱۳٦٦ لمریز
- د پښتنې فولکلور جامع کتابښود
- د ننګرهار نکلونه
- پښتو لنډۍ له یوې تحقیقي مقدمې سره
- په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د ښځې ټولنیز دریځ او انعکاس
- کجاوې د لنډو کیسو ټولګه

بالاخره د پښتنو مېرمنو له کاروانه دې نومیالۍ مېرمنې د روان ۲۰۱۹ ز کال د اپرېل په پنځمه، په هند کې په یوه روغتون کې ساه ورکړه. د هغه کورنۍ وایي چې غوټۍ د سرطان له ناروغۍ ځورېده، خو له پوره هڅو سره سره یې ډاکټران په درملنه بریالي نه شول. افغان فرهنګیان د نومورې مړینه د پښتو ادبي کاروان ته ستره ضایعه بولي او لاس ته راوړنې یې د پښتو ادب په لمن کې ګرانبیه غمي بولي. د علومو اکاډمۍ ویاړلي استاد ښاغلي حبیب الله رفیع یې په اړه ویلي: ((مېرمن غوټۍ خاورې د یوې علمي- ادبي کورنۍ غړې وه، د پښتو فولکور لپاره یې ډېرې هلې ځلې کړې، ډېر کتابونه یې لیکلي، تل یې د نویو معلوماتو هڅه کوله او د خپلو څېړنو لپاره یې کار او زیار کاوه)).
د کوزې پښتونخوا لیکواله او څېړونکې صفیه حلیم یې په اړه لیکي، چې آغلې غوټۍ خاورې یوه زحمتکښه، پر پښتنې دود مینه او د دغه فرهنګ پالونکې وه. د صفیې حلیمې په خبره، څو ځله یې له آغلې غوټۍ خاورې سره لیدلې دي، خو ټلیفوني اړیکې یې ورسره ډېرې وې. نومورې د خاورې خدمتونه ستایي او هغه د پښتنې ادب او فرهنګ لپاره مهمې لاس ته راوړنې بولي.
د علومو اکاډمۍ اوسنی سرپرست ښاغلی ظاهر شکیب هم د نومورې مړینه ستره ضایعه بللې ده او د پښتو ادبیاتو له مینه والو سره یې په دې اړه غمشریکي کړې ده. د علومو اکاډمۍ غړی ښاغلی سیدنظیم سیدي بیا غوټۍ خاورې د پښتنو پیغلو لپاره د لارې مشعل بولي او هیله لري چې دوی هم د غوټۍ خاورې لار وپالي او ځانونه د علم او ادب په ګاڼه سمبال کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳۰ |
| € | ۸٦,۵۰ |
| Rp. | ۵۳٤ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۵ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

## همیانۍ

# د هر کار لپاره څلور مهم اصله (پلان، عمل، ارزونه او سرته رسول)

**ژباړه: امان الله«حنیفي»**

څه باید بدل کړی، څه ناسم دي چې باید سم شي او تر ټولو مهمه دا، هغه څه ته د رسېدو لپاره باید سخت کوښښ وکړئ، چې تاسې یې په راتلونکي کې غواړی. خو ایا تاسې سلو په سلو کې باوري یاستی، چې تېروتنه به نه کوی؟ او باوری یاستی چې په هر ډول شرایطو کې به د یوې ستونزې لپاره ستاسې حللاره سمه وي؟

د هغه کار د پایلې په اړه چې یوه وړه تېروتنه هم پکې گډوډي پېښه ولی شي، ښه دا ده چې مخکې له مخکې یو ځل په ازمایښتي ډول هغه ترسره کړی. که ستاسې د غوښتنې مطابق مو ازمېښت پایله ورنه کړه، ښه ده چې د بیا ځلي تکرار لپاره نوې لاره غور کړی یا په مخکینۍ غوره شوې لار کې یو څه بدلون راوړی. مخکې له دې چې خپله انرژي او منابع مصرف کړی، ښه ده چې هرڅه مخکې له مخکې و ارزوی.

څنگه باوري شو چې یو ځل نه، بلکې هر وخت کار سم سرته ورسوو؟ د دې لپاره تر ټولو ښه لار دا ده، چې هر وخت د تغیر او بدلون لپاره چمتو واوسی. په نوښت او ابتکار سره کولای شی، یو کار د پخوا په پرتله ښه سرته ورسوی. هغه څه چې تاسې ته د یو کار له سرته رسولو وروسته خوښي درکولای شي، هغه له کار څخه مخکې پلان جوړول، وروسته د پلان مطابق عمل کول، بیا د هغه پایلې ارزول او په اخري قدم کې د هغه پوره سرته رسول دي. موږ په همدې مقاله کې په همدې اړه ځینې معلومات درسره شریکوو.

د دغو څلورو اصولو مهمې کړۍ ته د ډمینگ کړۍ وایي چې د همدغه شخص (ډمینگ) لخوا د یو کار د مؤثرو پایلو د لاسته راوړلو په پار وړاندې شوې ده.

د ډمینگ دغه مهمه کړۍ (پلان، عمل، ارزونه او سرته رسونه) څلور مهمې مرحلې لري:

**پلان:** د مسئلې پوره پېژندنه او شننه

عمل: د کار د ښه سرته رسولو په خاطر، په یوې ځانگړې طریقې سره د هغه ازمویل

ارزونه: د ازمویل شوې لارې د اغېزو ارزونه او د دې څېړل، چې ایا د دې پر نسبت بله ښه د حل لار شته او که نه

**سرته رسونه:** له تر ټولو ښې او اغېزناکې لارې د هغه کار سرته رسول

**پاس څلور مراحل داسې عملي کولای شی:**

همداسې لکه څنگه چې د ازمېښت لاره په وار وار تکراروی او دغه کار ته ادامه ورکوی، د عمل او ارزونې ترمنځ به له ډېرو خنډونو سره هم مخ کېږی.

د ډمینگ کړۍ تاسې هڅوي څو د یو کار د سرته رسولو لپاره، تر ټولو ښه حللاره ولری. په دې اړه لاندې څلور ټکي عملي کړئ، څو باوري شی چې تر ټولو پر ښه کیفیت لرونکې لار مو گام اېښی دی.

**۱- پلان**

لومړی تر هرڅه مخکې معلومه کړئ چې ستاسې کار یا موضوع څه ده. د (علت او معلول) او (ولې) پوښتنې په پوښتلو سره کولای شی، د خپل کار یا موضوع په اړه لا ډېر دقیق او مهم معلومات پیدا کړی. کله چې دغه کار وکړئ، ښه ده چې د اړوند کار په اړه لاسته راغلي معلومات له ځان سره وساتئ او وروسته ټول هغه معلومات چې له تاسې د پلان په عملي کولو کې مرسته کولای شي، له یو بل سره ضمیمه کړئ.

**۲- عمل**

دغه گام د ټولو هغو لارو ټولگه ده، چې عملي کول یې ممکن او مؤثره پایله لرونکې دي. تاسې دا وخت خپله پروژه په ازمویښتي ډول، د پرتلې په توگه، په یوه ځانگړې محدوده کې پر کوچنیو برخو وویشئ.

په دې اړه کولای شی له هغو لارو چارو چې ستاسی نوښت او ابتکار دی، هم استفاده وکړی.

د پلان جوړونې په اړه تر ټولو بل مهم ټکی، د هغو وسایلو یا امکاناتو درلودل دي، چې ستاسې له غوره شویو لارو څخه د یوې تر ټولې مهمې لارې په عملي کولو کې، تاسې له وېرې راوگرځوي او د عمل میدان ته مو ورسوي.

**مهم ټکی:**

په یاد ساتئ چې په دغه کړۍ کې(عمل) د تلاش او ازمېښت په مانا دی او د پوره سرته رسونې مانا نه ورکوي.

**۳- ارزونه**

په دغه قدم کې تاسې د غوره شوې حللارې اغېز ارزوی او کولای شی ټول هغه معلومات چې ستاسې له غوره شوې لارې سره لا ښه مرسته کولای شي، راټول کړی.

موخې ته د رسېدو لپاره د ازمېښتي لارې اغېز ته پوره دقت، تر ټولو د ښه اغېز لرونکې ټاکل شوې لارې او ستاسې نوښتونه کولای شي ستاسې عمل او ارزونه تکرار او حللاره مو لا مؤثره کړي.

کله مو چې د ارزونې مرحله پای ته ورسېده او ستاسې د خوښې وړ یا مو د خوښې وړ حد ته نږدې پایله په لاس راوړه، کولای شی بیا لاندې او وروستی گام عملي کړی.

**۴- سرته رسونه**

دا د غوره شوې حللارې د عملي کولو اخري گام دی. دلته ستاسې د (پلان، عمل، ارزونې او سرته رسونې) کړۍ پای ته رسېږي. که له همدې کړۍ څخه پر گټنې مصروف وی، مهمه ده چې د دغه څرخ لومړي گام (پلان) ته لاړ شئ او د ښو پایلو لاسته راوړلو لپاره تر ټولو ښې لارې ولټوی. خو یوازې د ښې حللارې موندل هم نه شي کولای، چې ستاسې کار پای ته ورسوي او تاسې بیا د ارامۍ احساس وکړی؛ بلکې ټاکل شوې لار به مو ټکي پر ټکي تر اخره تعقیبوی، څو بیا هغه پایله لاسته راوړی چې تاسې یې د لاسته راوړلو لپاره پلان جوړوی او تر ښه لار ورته ټاکی.

# اجرایه ریاست: طالبان نه شي کولای چې د دوحې په ناسته کې د حکومتي استازو دریځ وټاکي

اجرایه ریاست ویلي، هیله لرو چې د قطر راتلونکي ناسته چې د افغان حکومت استازي، سیاستوال او طالب پلاوي پکې برخه اخلي، د حکومت او طالبانو ترمنځ د رسمي خبرو اترو د پیل لامل وگرځي.

د اجرایه ریاست مرستیال ویاند فریدون خوځون تېره ورځ په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي، د افغان حکومت دریځ دا دی چې د دوحې په ناسته کې به د دوی استازي د حکومت د استازو په توگه گډون کوي، نه د افرادو او اشخاصو په توگه.

هغه دغه راز ویلي: «طالبان نه شي کولای چې زموږ برخلیک وټاکي چې موږ هلته په کوم عنوان گډون کوو او له چاسره گورو، خو د حکومت دریځ دا دی چې د حکومت استازي به د حکومتي استازو په توگه او د افغانستان سیاسیون به په هماغه عنوان چې دوی ورته دعوت شوي، گډون کوي.

په ټوله کې موږ د یو مسوول حکومت په توگه له هر رامنځته شوي فرصته گټه اخلو او د رسمي مذاکراتو د پیل لپاره زمینه سازي کوو».

که څه هم معلومه نه ده چې د قطر په ناسته کې به په کومه کچه حکومتي استازي برخه واخلي، خو وړمه ورځ د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس او د دې شورا د رهبرۍ شورا ویاند محمدعمر داوودزي ویلي، چې د قطر په را روانه ناسته کې به له طالبانو سره د مشورو په هدف، د ټول افغانستان په استازیتوب یو هر اړخیز پلاوی گډون کوي.

بلخوا یوې بلې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي، چې په دې غونډه کې د نورو تر څنگ، محمدعمر داوودزي او اجرایه رییس عبدالله عبدالله ته هم د گډون بلنه ورکړل شوې، خو په خبره یې د طالبانو وروستي دریځ ته په کتو، ښایي عبدالله په دې ناسته کې برخه وانه خلي.

دغه راز طالبانو وړمه شپه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي، چې په دوحه کې به له افغان سیاستوالو سره د دوی ناسته یوازې د نظریاتو او د پالیسیو د تبادلې لپاره وي.

دې ډلې د دوحې په ناسته کې د افغان چارواکو له حضور سره مخالفت نه دی ښودلی، خو شرط یې دا اېښی چې که د حکومت چارواکي برخه اخلي، یوازې دې د افرادو په توگه خپل شخصي نظریات وړاندې کړي.

مخکې له دې ویل شوي وو چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې له طالبانو سره دا ناسته د اپرېل په ۱۴مه او ۱۵مه کېږي، خو داوودزي ویلي چې د دې ناستې په اړه به نهایي نېټه سبا په ډاگه شي.

په ورته وخت کې د سولې عالي شورا د قطر ناسته رسمي نه بولي او ویلي یې دي، چې په دې ناسته کې به د سولې اړوندو ټولو مسایلو، په ځانگړي ډول د بین‌الافغاني خبرو اترو د پیل په اړه بحثونه وشي.

د دې شورا ویاند سید احسان طاهري ویلي: «د قطر دغه ناسته د حکومت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو کومه رسمي ناسته نه ده، بلکې دا یو تسهیل کوونکې ناسته ده، څو موږ وکولای شو له دې نه په گټنې د حکومت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو د پیل لپاره استفاده وکړو او ژر تر ژره رسمي مذاکرات پیل شي».

# اروپايي ټولنه: د افغانستان د سولې پروسې لپاره د ضامن په توگه چمتو یو

د اروپایي ټولنې د بهرني سیاست مسوولې فېدریکا موگریني ویلي، دا ټولنه او متحده ایالتونه په گډه کار کوي، څو د سولې بین الافغاني خبرو اترو ته زمینه برابره کړي.

موگریني په لوگزامبورک کې د افغان سولې په اړه د اروپایي هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو تر غونډې مخکې ویلي: «موږ له خپلو امریکایي ملگرو سره له نږدې کار کوو چې د بین الافغاني خبرو اترو لپاره زمینه برابره کړو. زه پخپله هم څو اونۍ مخکې په کابل کې وم، دا به د اروپایي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو ته یو فرصت وي چې هغه اقدامات تایید کړي، چې اروپایي ټولنه یې د دې پروسې د ملاتړ لپاره کولی شي».

په همدې حال کې د اروپایي ټولنې د بهرنیو اړیکو شورا د هغه پرېکړه لیک مسوده خپره کړې، چې ټاکل شوې د دې ټولنې د بهرنیو چارو وزیران پرې په لوگزامبورک کې بحث وکړي.

په دې مسوده کې راغلي چې افغان حکومت او طالبان باید څومره ژر چې کېدای شي، د سولې مخامخ خبرې پیل کړي.

اروپایي ټولنې دغه راز ویلي، د هرې هغې پروسې کلک ملاتړ کوي، چې د افغانستان خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو کرامت تضمینوي.

د اروپایي ټولنې د بهرنیو اړیکو شورا د خپل پرېکړه لیک په مسوده کې ویلي، د دې لپاره چې د افغان سولې پروسه پراخ بنسټه وي، د امنیتي ارگانونو په گډون په دولتي ادارو کې د اصلاحاتو، د ښکېلو خواوو د غوښتنې په صورت کې د سولې د پروسې د ضامن رول لوبولو، په ټولنه کې د وسله والو او د هغوی د کورنیو د مدغمولو په برخه کې همکارۍ او د سیمه ییزې سوداگرۍ او اتصال په برخو کې همکاریو ته چمتو ده.

د دې ټولنې د بهرنیو اړیکو شورا د افغان سولې پروسې لپاره د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له روله هم ملاتړ څرگند کړی دی.

په مسوده کې ویل شوي چې د افغان سولې پروسه باید پراخ بنسټه وي، د افغان حکومت له خوا تایید شي، تاوتریخوالی کم کړي، له افغانستانه نړۍ ته د تروریزم د گواښ مخه ونیسي، د ټولو افغانانو بشري حقونه خوندي کړي او د افغان دولت او د افغانستان د اساسي قانون دوام یقیني کړي.

د اروپایي ټولنې د بهرنیو اړیکو شورا دغه راز ویلي، چې دغه ټولنه د سولې د دغه شان یوې پروسې د عملي کولو لپاره سیاسي او مالي ملاتړ ته چمتو ده.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲۰مه | د ۲۰۱۹ د اپریل نهمه | دویم کال | ۳۶۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۰ | ۳۰ | ۲٤ |
| ۹ | ۱۳ | ۱۵ | ۱۲ | ۱۸ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۵ | لمر ختل ۰۵:۳۲ | ماسپښین ۱۱:۵٦ | مازیگر ۰۳:۳۳ | ماښام ۰٦:۲۰ | ماخوستن ۰۷:٤۷

نړی



# راپورونه: امریکا د ایران «سپاه پاسداران» ځواک رسماً د ترهگرو په نوملړ کې شامل کړی دی

۳

## عبدالرزاق وحیدی وزیر پیشین مخابرات بازداشت و به پلچرخی منتقل شد



عبدالرزاق وحیدی، وزیر پیشین مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، دیروز از سوی نیروهای امنیتی بازداشت و به زندان پلچرخی منتقل شد.

لویه څارنوالي می‌گوید که آقای وحیدی به سوء استفاده از صلاحیت‌ها هنگام مأموریت در وزارت مالیه مجرم شناخته و به سه سال زندان محکوم شده‌است. آقای وحیدی، پیش از این‌که وزیر مخابرات شود، معین وزارت مالیه بود. جمشید رسولی، سخن‌گوی لویه څارنوالی می‌گوید که عبدالرزاق وحیدی در یک محکمه غیابی محکمهٔ ابتدایی مرکز عدلی وقضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، مجرم شناخته شد. به گفتهٔ سخن‌گوی لویه څارنوالی، هفت تن دیگر از جمله عزیزالدین شمس، رئیس پیشین مطبعهٔ سکوک و قاهر حیدری، یکی از معینان پیشین وزارت مالیه نیز در این پرونده مجرم شناخته شده‌اند و آنان از دو تا چهار سال به زندان محکوم شده‌اند. عبدالرزاق وحیدی که به حیف و میل میلیون‌ها افغانی هنگام عهده‌داری سمت وزارت مخابرات متهم بود و رئیس‌جمهور غنی او را برکنار کرده بود، در ماه جدی سال گذشتهٔ خورشیدی، از سوی محکمهٔ ویژهٔ وزیران برائت گرفت.




## پامپیو: د خلیفه حفتر ځواکونه دې ژر تر ژره پر طرابلس بریدونه ودروي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، هېواد یې د لیبیا پر پلازمېنه طرابلس د متقاعد جنرال خلیفه حفتر د روانو بریدونو مخالفت کوي او په سمدستي ډول د دغو بریدونو د درېدو غوښتنه کوي.

پامپیو په یوه بیان کې ویلي چې یو اړخیز پوځي عملیات د لیبیا خلک له خطر سره مخ کوي او د لیبیا پر ښه راتلونکې منفي اغېز کوي.

نوموړي ویلي چې د لیبیا شخړه له پوځي لارې نه شي حل کېدای او همدې ته په پام، متحده ایالتونه د دغه هېواد پر مشرانو غږ کوي چې له نړیوالې ټولنې سره په گډه د ملگرو ملتونو په منځگړیتوب سیاسي خبرو اترو ته مخه کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر دغه راز ویلي چې سیاسي جوړجاړې د لیبیا د خلکو د یووالي یوازینۍ لار ده او له همدې لارې د لیبیا ټول خلک له امنیت، ثبات او شفافیت څخه برخمن کېدای شي.

بلخوا د لیبیا د ملي یووالي حکومت ویلي چې د روانې اپرېل میاشتې له څلورمې څخه په مرکز طرابلس کې د جگړو له امله لږ تر لږه ۲۳ کسان وژل شوي، چې ملکیان هم پکې شامل دي.

د دغه هېواد د لومړي وزیر فایزالسراج په مشرۍ د لیبیا حکومت، چې د امریکا په گډون د نړۍ ډېر هېوادونه یې ملاتړ کوي، ویلي چې د خلیفه حفتر د ځواکونو پر ضد یې ځوابي بریدونه پیل کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې جنرال خلیفه حفتر د لیبیا په ختیځ تبروک ښار کې له خپل لوري مستقله اداره اعلان کړې ده.

روسیه، متحده عربي امارات او مصر هغه درې هېوادونه دي، چې له متقاعد جنرال خلیفه حفتر څخه ملاتړ کوي.